
رواج
(لنده کیسه)
Ketabton.com
صمیم فیضی

بسم الله الرحمن الرحيم

## د کتاب پیژندنه

نــوم........................................................ رواج

لیکوال.................................................... صمیم فیضی

شمیره.........................................................۰۷۸۴۰۰۳۱۵۷/ ۰۷۷۳۰۹۸۶۱۱

دیزاین................................................... نصیب الله فیضی

## سریزه!

دودونه یا رواجونه په افغانستان له ډیر پخوا را پاتي خو له بده مرغه ځینی رواجونه بیا داسی هم شته چی د دوو کورنیو اړیکه په مرګ تماموي،بلخصوص په افغانیستان کی داسی رواجونه شته چی د شریعت په خلاف وي لکه ځینی ولایتونو په معاشره کی د خپل لور په ورکولو کی د انجلۍ د انتخاب پرته د بل د کور ناوې کوي،آیا دی ته هم زړه ښه کوي کوم هلک چی پلار یی ورته وټاکي. په تیره بیا په ځینو پښتنو کی دا یو عادت بیخي عام دی مطلب د زیات ولور اخیستنې.

د کورنیو تاوتریخوالي له امله په اکثره کورنیو کی ځان وژنې،بدي،او داسې نورې ستونزی پیدا کیږي مونږ او تاسې هم ښه پوهیږو چی اسلام په مبارک کتاب قران العظیم الشان کی د هر مومن مسلمان لپاره د ژوند کولو حق ورکړې باید د ژوند ملګرې هم په خپله وټاکي اګر که ښځینه دي که نارینه. نو ښه به دا وي چی هر مومن مسلمان د خپل لور یا زوی لپاره دا حق ورکړي ترڅو له داسی ناوړو ستونزو او رواجونو مخنیوی وشي.

و من الله توفیق

***

نرۍ غونډې یخ مې احساسه کړه ژر مې کمپله پر ځان خوره کړه،د کمپلې دننه د یوه پاتې شوی سوري له ښخه د لمر وړانګې مې پر سترګو وبریښیدې،کمپله مې له سترګو لیرې کړه په سترګو مې ګوتې تیرې کړې ناڅاپه مې د مهرباني مور غږ واورید:

ــ کشمالې وه کشمالې! ویخه شه نو خوبونه دې نور پریږده د پسرلي موسم په غوړیدو دې ته لا اوس هم تر ناوخته ویده یې؟

د آئینی ښخه مې سترګې د دروازې پر لور ورواړولې: مورې! ویخه یم.

د کوټې ور مې پرانیست مور مې په انګړ کې سابه پاکولې،ژر مې منده کړه او د مورجانې غیږې ته مې ځان واچوه.

ــ لورجانې! ته اوس لخیره د نهو کلو شوی اوس د دې کور پیغله جوړیږې لا اوس هم بیغمه خوبونه کوې؟

ــ نو مورې څه وکړم تر اوسه خو لا ماشومه یم خو د جسم نه لږه غوړیدلې ښکارم.

مورجانې! که ستا اجازه وي نو زه به لاړه شم د باندې له انجونو سره لوبې وکړم.

ــ سمده لورې لاړه شه خو کالي دې ناولي نه کړې.

ــ سمده مورجانې!

د انګړ لرګین ور پر لوري مې منده کړه،د باندی ووتمه د ملک صیب باغ پر لوري مې منده واخیسته لږ ځنډ وروسته باغ ته ورسیدمه،ریحان د پخوا په څیر په شګلن ځمکه ناست وو،زما په لیدو له ځایه پاڅید:

ــ کشمالې! ته چیرې وې دوه ځلې مې ستاسو د کور ور وټکاوه،مورجانه دې راته وویل چې ویده یې.

ــ هو بیګاه مې تر ناوخته سریالونه کتل ځکه بې خوبه پاتې شوی وم!

ــ ښه څه سمده،راځه چې لوبې سره وکړو.

ــ کومه لوبه وکړو؟

ــ چینډرو( موسی ) لوبه به سره وکړو.

ـ سمده راځه خو لومړۍ واری به زما وي.

ـ هرځل ته همداسې راسره کوی چې کومه لوبه شروع کړو نه اول واری ته اخلې..!

تر ماسپښنین پوری مو همداسې لوبې کولې،د راتلو په وخت کی مې سترګې ریحان ته واړولې:

ریحانه! څو ورځې وروسته ښوونځي هم پیلیږي.

ـ هو کشمالې! د ژمي هم اخیري ورځې دي.

ـ سمده ده زه به درنه لاړه شم کور ته چې مور به مې راته په انتظار وي د خدای په امان ریحانه!

ـ پر ځان دی پام کوه لیونۍ.

د انګړ دروازه مې پرانیسته،مور مې راباندې غږ وکړ: راغلې راځه چې غرمنۍ تیاره ده،ډوډۍ دی وخوره.

ـ ښه ده مورجانې پلار جان می راغلې دې؟

ـ هو راغلی خو لږ په غوسه دی،کار ورسره ونه لری.

ـ خو ولی مورجانې؟

ـ نه پوهیږم خو کیدای شي د کوم ملګري سره به یی شخړه کړي وي،ته داسی وکړه چې د لاس اوبه ورته واچوه چې د ډوډۍ په تمه ناست دی!

کوټې ته ننوتمه سلام می ور واچوه په تندي باندی د دولسو ګونځې هم ښکاریدې،س یی وخوځاوه د لاس اوبه می ورته واچوه،ډوډی هم تیاره شوه د ډوډی په خوړلو بوخت وو چی د پلار جان مبائیل وکړنګید،

مبائیل یی اوچت کړ: بلی هلو غږ می اوری.

پلار جان می له غرمنی خوړلو څخه اوچت شو او د انګړه باندې ووت،د ډوډۍ پر مهال می له موره وپوښتل: مورې پلارجان مې دا څو ورځې ګورم چې ډیر په غوسه وي دا ولې؟

ـ لورې پلار جان دی له ماما څخه یوڅه پیسې پور اخیستي دي د ځمکې اخیستلو لپاره کیدای شي د هغې څه حساب وي.

ـ مورجانې! مور خو جای او جایداد شکر ډېر لرو نو دا پلار می ولې دومره په پور ځمکې اخلي؟

ـ نه پوهیږم کیدای شي پلار دې له ډیر جایداد سره مینه ولري، هغه تل مدام د شتمنۍ،پیسې او د ځمکو له درلودلو سره مینه لري،کاشکې چې د ده دغه شتمنۍ مور وای او تل به یې مور سره مینه درلوده خو افسوس دا چې شتمنۍ،مال او جایداد داسې څه دي چې پلارجان دی هغه له مورہ غوره ګڼي.

بس همداسې مو سره لږې خبرې وکړې که څه هم ډیر وخت د سهار تېم لمونځ راڅخه پاتې کیده خو څلور وخته لمونځ مې اداء کاوه،د ماسپښین لمونځ مې اداء کړه نیت مې دلود چې مورجانې څخه د باندې وتو اجازه خو ویې نه منله.

ـ نور لورې د ماسپښین باندې مه وځه ښه پوهیږې چې غله ډیر شوي خدای مکړه...

ـ اوکې مورجانې،ښه که کارونه نور نه وي زه به ویده شمه!

ـ نه هیڅ کار نشته ځه لاړه شه ویده شه.

خپلې کوټې ته ننوتمه هیڅ مې خوب نه راته،ریحان مې هم ډیر یادیده،خو د ماذیګر وخت هم راورسید...

د باندې ووتمه،د ریحان غږ مې تر غوږ شو: کشمالې ته ډیر ما زوروې،ته ولې داسې کوې چې یوه شیبه مې په څنګ نه اوسې داسې احساس کوم لکه څه مې چې ورک کړې وي.

ـ زه هم همداسې،خو څه وکړم پلار مې کله کله همداسې کوي،خوغم مکوه ژر به ښوونځې پیل شي یو ځای به سره ښوونځي ته ځو او راځو.

د بل چا سره مې هیڅ زړه نه غوښتل چې لوبې وکړمه،که څه هم د کلي انجوني ډیرې وې خو زما زړه یوازې غوښتل چې له ریحان سره لوبې وکړمه،ځکه چې ریحان می د کوچنیوالي ملګری و،هیڅ می سترګې ورڅخه نه اوښتلې،ریحان تورې سترګې او تور ویښتان درلوده خو هغه د هاغو ماشومانو څخه نه وو چې خیرن او په خاورو سپیره کالي به یې ګرځه ول، تل به یې پاکوالې غوره کاوه خو د غربت سره،سره بیا هم داسې پاک ګرځیده،چې د مالدارو خلکو ماشومان هم داسې نه لیدل کیدل،هغه غلي او هوښیار هلک هم وو.

زما پر مورجانې هم ګران وو،موجانه مې هم تل ویل: لورجانې! هغه د ګلاب ماما زوی ریحان ډیر یو تکړه هوښیاره او با فکره هلک دی. زما هم ډیر خوښیده په دې چې تل به یی زما خیال ساته،کله به چې په لوبه کی ژوبله شوم هغه به دردیده،یا چی کله د کلي د هلکانو سره مې جګړه راته نو دی به تل زما پلوي کاوه او نه به یي پریښوده چی زما یو تار ویښتو ته زیان ورسیږي.

ورځ تیره شوه او شپې می خوب هم نه راته په سترګو کې به می تل دا تصور کیده چی اوس هم زه له ریحان سره لوبې کوم،ناڅاپه مې له کوچنۍ خوله دا خبره ووته: چی هغه خو پر ما مئین نه وي؟ خو دا خبره مې هڅې بابیزه وګڼله او په درانه خوب ویده شومه.

ورځې او شپې همداسی تیریدې بالاخره ښوونځي هم پیلې شوی،د حمل د میاشتې څلورمه نیټه وه هغه زمونږه د ملک صیب باغ داسې غوړیدلې وو چی له لیدو به یی خلکو خوند اخیسته،د مرغانو رنګارنګ نغمې داسې غږیدل چی د پسرلي موسم د پیل اعلانونه کوي.

لومړۍ ورځ وه چی د ښوونځي جامې مې پر تن کړه،او له ریحان سره یوځای د ښوونځي پر لور لاړو،د ښوونځي مخی ته هم ډیره ګڼه ګوڼه وه د تل په څیر ریحان زما ګوتې په خپل ګوتو کې ټینګ نیولي وو.

خپل ټولګې مې پیدا کړ له خپل ملګرو سره مې روغبړ وکړ،ریحان هم خپل ټولګي ته ننوته او لاس یی راته وخوځاوه ما هم د سترګو په اشارو داسې وویل چی :د خدای په امان تر بیا لیدو پوری.

د ښوونځي لومړۍ ورځ ښه تیره شوه زه په څلورم ټولګي کی ومه او ریحان هم د څلورم ټولګي زده کوونې شو،ساعتونه ښه تیر شول د رخصتۍ پر مهال زه او ریحان هم بیرته کور ته ستانه شوو.

کورته ورسیدو ما هم له ریحان سره خدای په امانې وکړه،او خپل کورته ته راغلم ورمې وټکاوه مورجانه مې ور پرانیسته تر سلام اچولو وروسته زه یې ښکل کړمه،او راته یی وویل: کشمالې ډوډۍ تیاره ده ورشه جامې دی بدلې کړه او لاسونه دی هم پاک کړه.

سر می د هو په نیت وخوځاوه او لاړم،د کورنی سره یوځای ډوډۍ وخوړه تر غرمنی خوړلو وروسته

لمونځ وکړ او هرڅوک خپل کار پسې ولاړل،ما هم له مورجانې څخه مې اجازه واخیسته او ولاړمه د باندی د نورو ماشومانو سه په لوبې کولو بوخته شوم چې ریحان هم راغلې تر ماذیګره مو خه لوبی وکړې هغه د چا خبره ښه مو ځانونه ستړي کړل نور نو د لمر وړانګې هم موړ سره یاري ونکړه او دې ته اړ شوو چې له تږوله سره مخه ښه وکړو او له دی ځایه ولاړ شوو،ریحان هم د خدای په امانی وروسته د خپل کور پر لوري ولاړ او زه هم راغلم د خپل کور پر لوري.

***

بالاخره د پسرلي موسم همداسې په خوشحالی سره تیریدې،تر دې چې د څلور نیم میاشتینی آزموینه پیل شوی آزموینې هم همداسې ښې تیریدې،ما او ریحان هم ښه پارچې ښوونکو ته ورکولې او په پایله کې مې هم ښې نمرې ترلاسه کړې.

ژوند مو همداسې سره تیریدې حتی تر دې چې د کلنی آزموینه هم ښه تیره شوه.

د ماشومتوب کیسه خو همداسې خوندوره او په زړه پورې وه خو کوم بدبختۍ چې ما په ژوند کی ګاللي یواځې د پیغلتوب په دوران کی راباندې تیری شوې.

نور به مو څه سر در خوګوم،خو داسې وخت هم راغلې چې ما په یوولسم ټولګي کی زده کړې کولې او پوره یو کال کیده چې ریحان مې هم په سترګو هم نه وو لیدلای،یوه ورځ د انګړ په پاکولو بوخته وم چې ور وټکیده ور مې پرانیسته یو کوچنی ماشوم چې تقریباً د اته یا نهو کلو راته په سترګو شو.

ــ سلام علیکم خورې تاسې کشماله یاست؟

ــ وعلیکم السلام هو زه په خپله یم وایئ تاسو څوک یاست؟

ــ زه ریحان ورور واستولم ترڅو دا لیک تاسو ته ورسوم.

ــ سمده مننه ماته یی راکړه زه به یی وګورم.

لیک مې ژر ورڅخه واخیسته او پخلنځي ته ننوتمه لیک مې په بیړه پرانیسته په ښکلي او ښایسته خط سره

سره داسې لیکل شوي وو:

سلام علیکم ګرانې کشمالې!

هیله لرم چې روغه او جوړه به یاست

پوهیږم چې راځخه خوابدې یی خو مجبوره وم له یوڅو مودو لپاه ننګرهار ته تللې وم

هلته د یو جنجال د خلاصون لپاره پوره یو کال هلو ځلو ته مصروف شوم.

کشمالې! تل مې په زړه کی اوسیدلې هیڅ می هیره کړې نه یی چی ویده به هم شوم ته می یادولې

او ویخیدو سره سم می هم یادیدلې اخر ته می د ماشومتوب ملګرې او مینه یی.

غواړم دا درته ووایم چی لخیره د میاشت په اخر کې مورجانه می تاسې کره ستا لپاره په مرکه ولیږم

زه هم کوښښ کوم ترڅو کارونه می ژر خلاص کړم او بیرته کلي ته ستون شم.

لیک می د خپل تره د زوې په لاس امانت کلي ته ولیږه هیله لرم چی در رسیدلې وي.

ستا نازولې( ریحان احمد نیازې )

د لیک تر لوستلو وروسته می داسی خوښي احساسه کړه چې د ډیر خوښی نه په جامو کی نه ځاییدم،لیک می کلک زړه پوری ونیوه د څو شیبو لپاره په سوچونو کی ډوبه شوم ناڅاپه می لاندې ځمکې ته پام شو چې لیک راځخه غورځیدلې وو،ژ می لیک له ځمکې پورته کړ د کوټې له یوې کړکی نه می د مورجانې غږ راغې..

ـ کشمالې! تا تر اوسه انګړ نه دی پاک کړې؟ ژر یی پاکه کړه چی ډیری کارونه مو په غاړه پراته دي،او بیګاه ته میلمانه هم لرو!

ـ څوک دي مورجانې؟

ـ نپوهیږم خو کله چې پلارجان دی سهار د باندی وته راته یی ویلې زما ملګري او ځینې ښځینه هم ورسره دي.

ـ سمده مورې! دادې اوس یی ژر خلاصوم. جارو مې له ځمکې اوچته کړه او د انګړ په پاکولو لګیاه شومه..

د انګړ تر پاګولو وروسته د خوړو په پخولو مې ځان بوخته کړه،شیبه د سترګو په رپ کی تیره شوه د ماښام قضا وه چې د انګړ دوازه وټکیده پلارجان مې د انګړ ور پرانیسته یو څو سړیان او دوه ښځه هم ورسره را ننوتل،زه د کوټې ور مخې ته ولاړه وم،پلارجان مې له سړیانو سره میلمه خونې ته ننوتل،او ما هم له ښځو سره ستړې مشي وکړه.

میلمانه مې کوټې ته ننویستل او زه بیرته ترې د چایو راړولو په نیت ووتم،لومړی می سړیانو لپاره چای تیار کړ پلارجان می هغه له ځانه سره میلمه خونې ته یوړل او وروسته می ښځینوو میلمنو لپاره چای تیاره کړه.

یو څو تشې پیالې او  ترموز مې په پتنوس کی کیښوده او کوټې ته ننوتم.

د چایو تر څکلو وروسته زه د پخلنځي خواته ولاړمه،تقریباً ښه ځنډ وروسته می مورجانې غږ وکړ..

ــ لورجانې! راځه چې میلمانه د پاتې کیدلو نه دي ډیر مې ورته وویل چې پاتې شئ ډوډۍ وخورئ بیا په کراره سره ولاړ شئ خو نه یی منې!

ــ ښه ده مورجانې! دادې راغلمه.

ماهم میلمنو ته د پاتې کیدلو ست وکړ خو و یی نه منله نور نو مور هم ورته نور څه ونه ویل خو له کوره مو رخصت کړل،خو لنډه دا چې شپنی مو تیاره شوه زه دوه ورونه می سره له مور او پلاره پر دسترخوانه را ټول شولو پر ډوډۍ خوړلو مو شروع وکړ د ډوډۍ خوړلو وروسته مې له پلارجانه وپوښتل: پلارجانه! دا میلمانه راغلي لا نه ول چې بیرته ولاړل؟

پلارجان مې هیڅ کوم غبرګون ونه ښوده ما هم د دویم ځل لپاره ورڅخه ونه پوښتل او د دسترخوان په پاکولو بوخته شوم دسترخوان مې له قالینې پورته کړه او د پخلنځي پر لوري می ګامونه ګړندې کړې، د دسترخوان او د خوړو د لوښو وړلو بیرته کوټې ته راغلمه.

د نالۍ ( توشکه ) په یوه څنډه کیناستمه مورجانه می د چایو له غړپ کولو وروسته شونډې یی وخوځیدې: وه سړیه! دا میلمانه دې لپاره راغلي وو چې زموږ د لور... پلارجان مې د مورجانې خبره پریکړه

ـ پوهیږم چی د څه لپاره راغلي وو هغوئ خبره ماته هم یاده کړه خو ما ورسره ونه منله او خبره می ورته رده کړه،بل دا چی زموږ لور خو تر اوسه خپلي زده کړې سرته نه دي رسولي،او بل دا چی کورنۍ یی ځیني اقتصادي ستونزې هم،سمده چی زما ملګرې وو خو داسې هم نه ده چې زه به خپل لور داسې شخص ته ورکوم چی خپله د یوې مړی ډوډۍ پسې سترګې وتي وي.

ـ وه سړیه! ځکه دا مرکه دی ونه منله او زه دی په کړنو هم ښه پوهیږمه چی ته یو داسې انسان یی چی د مال او دولت ته ډیر ارزښت ورکوې او د لور یا زوی راتلونکي ته فکر نه کوی...

ـ ښځې! ته دې هم دا خوله لږ په واک کې کړه زه ښه پوهیږم چی څه وکړم او څه ونه کړم.

خو د الله(ج) څخه دومره شکر ګزاره شوم چی ښه شوه خلک یی بی له پریکړې ځواب کړه،خو دغه خوشحالۍ سره، سره د یوی بلې خبری سیلۍ پر مخ احساس شو مطلب دا چی آیا پلارجان به مې ما ریحان ته ورکړي؟ که چیری پلارجان مې ریښتیا هم له پیسو، مال او دولت سره مینه لري بغیر له مالدار خلکو نه به مې نور هیچاته ورنکړي.

توبه توبه دا زه څه وایم،الله(ج) مهربانه ذات دی کیدای شي د پلارجان دا سخت او له تیږو جوړ زړه کی رحم واچوي،خو خیر په همدې سوچونو کې ومه چی ناڅاپه می پلارجان د خوبونو څپه را ماته کړه:

ـ کشمالې! څه ړدې ړدې ګورې خبری هم نه اورې ، که چای پاتې وي دا پیاله ورڅخه ډکه کړه!

پیاله می ورڅخه واخیسته او له چایو مې ورته ډکه کړه.

د ماسخوتن لمونځونه مو وکړل او هر څوک خپل خونو ته ننوتل زه هم خپلې کوټې ته شوم ځای مې واچوه د ویښتانو څخه می نیونکې( قیدک ) وویست او په نالۍ وغځیدمه،د کړکی څخه د دیوالسمې سپوږمۍ تته رڼا را ښکاریده په کتو یی راته د ریحان نازکه څهره را یادیده د هغې په خیالي نړۍ کی ومه چی خوب وړې وم.

د سهار له آذانونو سره ویښه شوم،آودس او لمونځ مې وکړ او الله(ج) له دربار څخه می وغوښتل:

ای خدایه! څه کیږي چی ته ما خپل ریحان ته ورسوی،زه له هغه سره دومره مینه لرم لکه څومره چی یو

پتنګ د شمعِ له اور سره مینه لري،زه ورسره دومره مینه لرم لکه څومره چی بورا له ګلانو سره مینه لري

یا ربه! ته په هرڅه عالم او قادر یی،کوم آرمانونه چی زه لرم راته یی پوره کړې آمین.

د آلماری څخه می قران الکریم را واخیست او په تلاوتولو می پیل وکړ...

د ریحان د مورجانې په تمه چی راشي ورځې او شپې می شمیرلې،خو لنډه دا چی د میاشت اخره هم لا نه وه

شوې چی د ریحان مورجانه زموږ کره راښکاره شوه.

ــ پخیر راغلې شریفې تروروې؟

ــ خواره مه شې کشمالې لورې..

ــ تروروې دا څادري دی ماته راکړه.

مورجانې! راشه چی شریفه ترور راغلې ده.!

مورجانه مې زما د غږ په اوریدو د کوټې څخه د باندې ووته او له شریفې ترور سره ټینګه ستړې مشي وکړه.

په بیړه باندې مې سترنجی په انګړ کی خوره کړه، ترورجانه او مورجانه په غوړیدلې سترنجی کیناستل او زه

هم د چایو تیارولو پسې ولاړمه.

چای مې له ګوړو سره راوړه،شریفې ترور سره مو په کیسو پیل وکړه ډیری خبری مو سره وکړی،شریفی

ترور چایو د غړپ وروسته وویل: کشمالې لورکی! له درسونو سه دی څنګه یی؟

ــ شکر درسونه مو ښه تیریږي،نن می زړه ونه شو ځکه ښوونځي ته ولاړه نه شومه.

که څه هم زما په زړه کی دا آرمان دی چی ښو نمرو د خپلې خوښې یعنې ډاکټرۍ پوهنځي ته بریالۍ شم او

له خپلې سپیڅلې دندې په وسیله د هیواد میندو ته خدمت وکړم.

ــ ګل ځانګې خورې! زه به نوره درنه لاړه شمه،ریحان به هم را رسیدلې وي،بیګاه یی زنګ وهلې وو

او ویلې چی سبا حرکت کوم لخیره،هغه به رسیدلې وي.

ــ خورې! غرمه پاتې شه ډوډۍ وخوره بیا به ولاړه شی؟

ـ نه خوری زه به درنه لاړه شم خپل کور دی ست هم نه کومه.

د انګړ تر دروازی ور سره ولاړمه ترورجانه زه په تندي ښکل کړمه او خدای په اماني مو سره وکړ.

زه هم نن ډیره خوشحاله وم او په زړه کی می ګوړې ماتولی هغه د چا په خبره په جامو کی نه ځاییدم،غرمې لپاره می هرڅه پاخه کړه پلارجان می هم له ښاره راغی ټول سره راټول شوو،او د غرمې ډوډۍ مو نوشجان کړه،د ماسپښین تر لمانځه وروسته می خپل کارونه خلاص کړل او وروسته له خپل کتابونو سره خوني ته ولاړمه، ښه شیبه می پر خپل کتابونو نظر تیر کړ مطلب دا چی تیر او نویو درسونو تکرار می وکړ.

هغه د فارسی ژبانو په خبره شف شف نی شفتالو بګو،مطلب دا چی خبره به لږه را لنده کړم هغه دا چی شپې ورزی په کلي وغوړولې او پر کلي یی واکمنی کوله خو له بده مرغه د انسانانو د مینې په شان یی وفا ونکړه او خپله واکمني یی ورځې وسپارله.

د سهار لمونځ هم راڅخه پاتې شوی وو،پاڅیدم ولاړمه پخلنځي ته اوبه می په چایجوش کی واړولې او د منقل د پاسه می کیخوسته او اور می ورته،وَرته کړه،اوبه هم د څو شیبو په ترڅ کی جوشی شوی.

د سهار ډوډۍ مو وخوړه،د سهرنۍ تر خوړلو وروسته می د ښوونځي جامې می واغوست او می ځان تیار کړ نور په تمه نه شوم او د ښوونځي پر لور می ګامونه ګړندې کړې...

په لاره کی یوه عجیبه پیښه راسره وشوه مطلب دا چی د ریحان سره مخامخه شوم،دواړه د یو څو شیبو لپاره هک او پک پاتې شوو،له موږ دواړو څخه یو هم دا جرعت ونه کړ چی یو بل ته څه ووایو،ځکه دا هغه د کوچنیوالي دوره نه وه چی له یو بل لاس ونیسو او په کیسو،کیسو ښوونځي ته لاړ شو،بیا تاسو خو ښه پوهیږئ بلخصوص دا زموږ د پښتنو معاشره دومره بده شوی ده چی له یوی کوچنۍ خبری څخه ډنډوره جوړوي،ترڅو چی ما مخکې پل کیښودو نو ریحان زما د مخه پل کیښود او مخ په وړاندې ولاړ،ما هم شاته ونه کتل او د ښوونځي پر لورې روانه شوم،ځکه هغې هم نه غوښتل چی موږ دی یو څوک ووینې.

ښوونځي ته په رسیدو سره یوې ملګرې چی افسانه نومیده راڅخه وپوښتل: کشمالې! څو ورځې کیږي چې

خوشحاله معلومیږې حتی تر دی چی کله،کله هم له ځانه سره خاندې...؟

ترڅو چي هغې خبره سرته رسوله ما یی مخه ونیوه چی بیا می ونه زوروي: افسانې! هغه داسی ده چی یوه ټوکه می پلار راته کړی وه هغه چی راته یادیږي خندا راځي.

ـ مګر خوشحاله بیا ولی یی؟

ـ نو څه وکړم وژاړمه؟

ـ ښه راځه چی ټولګي ته ولاړ شو،بیا به رقیه ښوونکې د ناوخته راتګ په هکله مسلې وکړي.

ـ سمده ده بیا نو ولاړه څه ته یي راځه چی ځو!

په ټولګي کی ښوونکې تدریس کاوه خو زما ټول فکر شریفې ترور ته وو چی ولی یي زما د مرکې خبره مورجانې ته یاده نه کړه؟ مګر ریحان خو راته ویلې وو چی مورجانه می د مرکې لپاره ستاسو کور ته استوم،څه الله پاک مهربانه ذات دې،کیدای شي زما لیدو ته راغلي وي او یا به یی هم ورته ویلي نه وي چی ترڅو زما لپاره په مرکه راشي، په همدی سوچونو کې وم چی رقیه ښوونکې راباندی غږ وکړ:

ـ کشمالې! آیا ته پوهیږې چی ما تر اوسه څه ویل؟

ـ هیڅ ځواب می ورته نه درلود ځکه مقصره ومه.

ـ لورې! فکر دی چیراته دی،لږ خو دی درسونو ته هم پام کوه ځکه چی ته اوس د لیسې په دوره کی یی! سر می د هو په ځواب ورته وخوځاوه او بخښنه می ورنه وغوښته.

ساعتونه ښه تیر شول ښوونځی هم رخصت شو،زه بیرته د کور پر لوري ستنه شومه.

***

یوه اونی او څو ورځې تیری شوی،زموږ د څلور نیم میاشتنی آزموینه هم پیلي شوې،آزموینې هم همداسې ښه پرمخ تلل،یوه ورځ چی د جمعې مبارکه ورځ وه چی یوځل بیا د شریفې ترور غږ د انګړ له وره راووت

ـ کشمالې لورې! کور کی یاست؟

ـ راځئ تروري سترې مشئ؟

ـ خواره مه شی لوری په کور کی مو شور نه وه ما داسی فکر وکړ چی څوک به یی کور کې نه وي!

ـ نه ترورې! چیرته نه یو تللي همدلته یو.

ـ ګل ځانګه! چیری ده؟

ـ هغه به په کوټه کی وي خو تاسو راځئ!

ترور می خونې ته یوړه،ګرمي هم زیاته وه مور مې له ترورجانې سره روغبړ کاوه زه هم پاڅیدم ترڅو د ترور لپاره چای تیار کړم.

چای می د ترور جانې مخی ته کیښود،بیرته د تلو په وخت کی ترورجانه راباندی غږ وکړ:

ـ کشمالې لوری! که لږی یخې اوبه راباندې وڅښې نو خوشحاله به شم،یو خو ګرمي هم ډیره ده.

ـ سمده تورې! ولې نه!

اوبه می ورته راوړو او بیرته له کوټې نه ووتمه،د کوټې له ورې څخه د هغوئ خبرو ته غوږ شوم،ډیری خبری او اترې سره وکړې د خبرو پای وو چی ترورجانې غږ داسې تر غوږو شو:

ـ ګل ځانګې! ته خو په خپله پوهیږې چی کشماله هم پیغله شوی او زما زوی ریحان هم زلمې شوی او تاته پته هم ده چی دوئ له کوچنیوالي یو بل پیژنئ او له یو بل سره مینه هم لري،خبره داسی ده چی زه دې لور کشماله خپل زوی ریحان ته غواړم،البته که ستاسو خوښه وي.

ـ شریفې خوری! ستا خبره خو غورځولې نه شم او نه هم درته ویلې نه شم،خو زه به یوځل له خپل خاوند او د کشمالې ورونو سره خبره شریکه کړم،بیا به زه درته ووایمه.

ـ ګل ځانګې! نوره نه پوهیږم خو لور به دی زما زوی ته راکوی.

ـ شریفې خورې! موږ به سره خبره وکړو که د کشمالې پلار او ورونه رضا وو خو زما خوا څخه کوم ستونزه نشته.

د خبرې تر اوریدلو وروسته دومره خوشحاله شوم چې لږ پاتې وو د کوټې ور پرانیزم او د ترور پښو ته ځان ګوزار کړم.

بیخي له کنټروله وتې وم،په ځان نه پوهیدم که څوک مې په ځنګ کې وای زیرې مې هم ورته ورکاوه،خو ناڅاپه مې د ور کونډې د خلاصیدلو غږ واورید ژر مې ځان سمبال کړ او د کوټې د وره څخه لیرې ودریدم مورجانه مې راباندې غږ وکړ: لورجانې! د شریفې ترور څادرې راوړه چې ځي لخیره.

ــ ښه ده مورجانې! دا دې راوړمه یې.

څادرې مې ورته راوړ،او د خدای په امانۍ وروسته تر وره ورسره ولاړمه.

شپې چې کله مې پلار له ښاره راغې د ډوډۍ خوړلو وروسته مورجانه مې خبره ورته یاده کړه.

ــ وه سړیه! نن شریفه ترور موږ کره د کشمالې په مرکه راغلې وه،ما هم ورته وویل: چې زه یوځل له خپلې کورنۍ سره خبره شریکه کړم ترڅو د هغوئ رضا پکې شته او که نه.

ــ ښځې! دا زموږ کور خو څه دوکان نه دی چې هرڅوک وغواړي نو ورته یې ورکړم، او هو د هغه زوی ریحان نومیږي که څنګه؟

ــ هو ریحان د هغې زوی دی،باسواده او هوښیار هلک دی..د کشمالې پلار ډیر په قهرجن لهجه وویل:

ــ ښځې! دا نو څه وایې؟ داسې خو نه ده چې هر څوک له ماشومتوبه د یو بل سره لوبې وکړي او وروسته بیا د هغې غوښتنه وکړي،او بل دا چې هغوي د کورنۍ ستونزې هم ډیرې دي،او غریب دي هغوي زمونږ د سیالۍ او شریکۍ هم نه دي،زه په دې خبره کې رضایت نه لرم،سر له سبا ورته ووایه چې خپل زوی لپاره دې بل ځای کې انجلۍ خوښه کړي،هغوي خپل ځان نه شي مړولای نو زمونږه لور به څنګه وساتي؟

ــ خو وه د کشمالې پلاره! ته خو یوځل فکر پرې وکړه د مالدارۍ پسې مزه چې مالداره دي او که نه او بل دا چې د شریفې خور غونډې ښځه په دې نړۍ کې لږ پیدا کیږي..

ــ ته دې اوس دا ببولالې دلته ماته مه غږوه زما رضایت نشته بیاځل دې داسې خبرې وانه ورم زه پخپله

پوهیږم چې څه وکړم او څه ونه کړم.

ـ ته خو دی یوځل د کشمالۍ څخه وپوښته چې رضایت لري او که نه؟

ـ څه،څه زه د کشمالۍ پلار یم او که هغه زما پلار ده،هغه هیڅ واک نلري چې پریکړه وکړي د هغې د هر پریکړې واک یواځې زما په لاس کې دی.

د دې خبرې له آوریدلو وروسته مې سترګې یو له بل سره ورغلې او نور په ځان پوهه نه شوم..

ـ کشمالۍ وه کشمالۍ! سترګې خلاصې کړه وه سړیه لاسونه یې ورته ومښه چې په هوښ راشي!

ستا د لاسه به زه یوه ورځ پر سر خاورې بادوم،تندر دی ستا په دی سخت زړه پریوزي چې خوارکۍ انجلۍ دی کوم حال ته ورساوه.

ـ دا میراته خوله دی نوره بنده کړه او خپل لور ته دی فکر ونیسه،چې وزګاره شې همدا ببولالۍ غړوې.

ـ وه ښځې! ولاړه شه لږی یخی او به راوړه چې پر مخ یې وشیندم.

لورې،کشمالۍ لورې زما غږ اورې سترګې پرانیزه.

ـ وه سړیه! ته لیرې شه چې زه ورباندې لږی یخی اوبه وشیندم کیدای شي په هوښ راشي..

د اوبو یخې څاڅکي مې پر مخ احساس کړه، څه نا څه مې لږ زړه بیرته خپل ځای ته راغې.

ـ لورې! ته ښه یې؟

ـ مورجانې! اندیښنه مه کوئ زه ښه یم.

ـ کشمالۍ! دا یو ناڅاپه په تا څه وشول چې داسې پر ځمکې پریوتې؟

ـ نه پوهیږم مورجانې! کیدای شي چې د ګرمې را باندې بده اغیزه کړې وي.

ما کوښښ وکړ چې خبره په زړه کې پټ وساتم خو مورجانه مې په داسې انداز کې وپوهولم مطلب دا چې هغه وپوهیده چې ولې بې هوښه شوم خو هغه هم مقصره نه وه ځکه د هغې وسه مې په پلارجان نه رسیده ما هم د سترګو په اشاره ورته وویل: چې زما په هکله څه پلارجان ته ونه وایې!

له ځايه پورته شوم او بلې کوټې خواته په ځغاسته ولاړه شوم،کوټې ته په ننوتو سره مې د کوټې ور بنده کړه پر نالی پریوتمه او د پریوتو سره مې سم پر سترګو کی د اوښکو څپې وغوړيدلې،بنه شیبه مې یواځې وژړل چی دروازه راپسې وټکیده: کشمالې لورې! دروازه خلاصه کړه؟

ــ نه غواړمه چی ستاسو خبری واورم،څه چی ول وامې وریدل.

ــ لورې! ته خو دروازه یوځل خلاصه کړه هرڅه به خدای پاک ښه کړي.

زړه نا زړه مې دروازه خلاصه کړه او لکه د کوچنیانو په شان می ځان د مورجانې غیږی ته واچوه،که څه هم مورجانه می د ویلو لپاره څه نه درلودل خو یواځې خپلې نازکې ګوتې یی زما پر ګڼ ویښتانو تیرولې،او ما یواځې ژړلې.

ــ لورجانې! ما دی پلارجان هر څومره وپوهاوه،خو هغې دواړه پښې په یوه موزه کی ننویستې،او بل دا چی هغه خو تاته هم در معلوم دی چی یو ضدي سړی، او د خپلې پریکړې خاوند دی،او نه غواړي چی تا د شریفی ترور زوی ته ورکړي.

ــ خو مورجانې! زه خو هغه سره مینه لرم،او زه خو حق هم لرم چی د خپل ژوند ملګرې په خپله وټاکم خو ولې پلارجان می زما د حق څخه سرغړونه کوي؟ آیا دا هم په اسلام کی راغلي چی د لور ژوند باید یی پلار وټاکي او هرچاته یی چی زړه وشي ورته یی ورکړي؟

ــ کشمالې! که زما په وسه څه رسیدل خو ما پر تا سر هم ورکاوه،خو لورې چی پلار دی نه غواړي ستا پریکړه ومني همدا شان زما پریکړې ته هم توجه نه کوي،که زما خبره یی منلې نو ما به ستا په خوښه پریکړه کړی وای.

ــ مورجانې! زه د خپل پلار پښنو ته ځان غورځومه، زاری به ورته وکړم...

ــ لورجانې! ما درته وویل چی پلار دی ډیر ضدي سړی دې هغه هیڅکله له خپلی خبری نه اوړي،هغه د خپل ملګري خبره رده کړه نو آیا هغه به د شریفی ترور مرکه ومني،لورې که زما مني تیر شه له دی غوړې

شورروا نه.

د خبرو لپاره مې نور څه نه درلودل سر مي د مورجانۍ په غېږ کې کېښوده اوهمداسې مې سلګۍ وهلې...

د سهار ژېړې لمر زما پر مخ ځلېدله،نرۍ مسکا مې پر شونډو خوره شوه،خو کله چې مې د بېګاني خبرې پر مغزو وګرځېدې داسې احساس مې کاوه لکه يو خوب مې چې لیدلای وي،خو له بده مرغه چې دا هرڅه د یوې بدې پیښې پشان رابانډې تیر شوي وو،د سهار لمونځ هم راڅخه پاتې شوی وو.

پر مخ باندې مې څو لپې اوبه وشینده،پر تناب بانډې غوړیدلي مخ پاک باندې مې مخ وچه کړه،مورجانه مې پر ګلانو اوبه شیندل زما په لیدو يې لوټه پر ځمکه کېښوده...

ـ کشمالې! پاڅیدلې سهار پخیر؟

ـ د سر په خوځولو مې ځواب ورکړه،او د کوټې د یوې اشادارې سره تکیه ووهله.

ـ لورئ! ما درته ډېر غږونه وکړل چې پاڅیږه بیا به له ښوونځي څخه پاتې شې او وګوره همداسې وشول.

ـ مورجانې! ستا په غږونو زه بیخي پوهه شوی نه ومه.

ـ ښه ده لورې! ته داسې وکړه چې وکړې خدای! په دې دهلیز لږ جارو ووهه چې پاکه شي.

له ځایه په سختۍ سره جګه شوم،جارو مې واخیست او د دهلیز په کاکولو لګیاه شوم...

له دهلیز تر پاکولو وروسته پر تناب باندې غوړیدلي کالیو په ټولولو بوخته ومه چې د دروازې د ټکولو غږ راغي غږ مې پرې وکړ: څوک یاست؟

ـ زه یمه لورې شریفه ترور.

کالي مې پر اوږه واچولو او د انګړ د وره پر لور ورغلم،دروازه مې خلاصه کړه.

ـ ستړې مشې شریفې تروري؟

ـ خواره مه شې کشمالې،لکه چې کالا شويې لرئ که څنګه لکه چې مزاحمه شوم؟

ـ نه تروري مزاحمه نه يې،دا پاک کالي دي له تنابه مې راټول کړل.

ـ راځئ تروري دننه ولې د باندې ولاړه یاسئ؟

زموږ د دواړو په خبرو په کولو سره مورجانه مې هم له کوټې څخه راووته.

ـ ستړې مشې شریفې خورې پخیر راغلې؟

ـ خواره مه شي خورى.

درى واړه مو د کوټې خواته تشریف یوړو،کوټې ته په رسیدو سره مې مورجانې راته وویل:

ـ لورجانې! ورشه ترورجانې ته دى چاى تیار کړه..خو مورجانه مې خبره پوره کړې نه وه چې ترور جانې غږ وکړ: نه نه خورې! کور مو ودان،کشمالې لورکى داخل به چاى درسره ونه نه څښنم.

خو ترورجانې یوه پیاله خو وڅښئ چې ستړیا مو ووځي؟

ـ نه لورجانې! الله دى قدردان کړه ست خو نه کوم خپل کور مې دى.

ډیر ست مې ورته وکړ خو و یى نه منله نوره زه هم تمه نه شوم او له کوټې ووتم،د دروازې تر شا مې د دوئ خبرو ته غوږه شوم..

ـ ګل څانګې! تا خو به د خپل خاوند او زامنو سره دى خبره شریکه کړې وې،انشاءالله چې منلې به یى وي؟

ـ هى هى خورې! له بده مرغه چې ماته خداى پاک داسې خاوند نه دى راکړې زما د خبرو پریکړه ومنې خورې ډیره خواشینې یم چې تاته دا خبره کوم، مګرم زما خاوند دا خبره رده کړه، خورې ته مه خفه کیږه خیر بل ځاى کى ځانته اینګور وګوره.

د مورجانې په دى خبرى سره زما سترګې له اوښکو ډکې شوى د کوټې له وره څخه لیرې شوم او د پخلنځي خواته مې منډه واخیسته،هڅه مې وکړه چې ځان سمبال کړم خو د ژړا غیږې زه پرى نښودمه،اوښکې مې پر باړخوګانو نرى لارې جوړې کړې،او د چوپتیا په چاپیریال کى یواځې زما د سلګیو غږونه اوریدل کیدل..

***

ورځې شپې همداسې تیریدلې،کوم نور چې زما په څهره کى لیدل کیده هغه نور مې له آرمانونو سره خاورې

شوي وو،له ښوونځي څخه مې هم لاس اخیستې وو،له تاسو څخه به څه پټومه ځو ځله شیطان لعین راته په زړه را ګډ شو چې راشه زهر وخوره لږ تر لږه خو د دنیا نور غمونه خو به نه لیدلای او نه هم ګاللې،خو نه پوهیدمه چې د قیسمت لوبه به راسره داسې لوبه لوبوي،ژوند داسې لکه د خزان موسم په څیر راباندې تیریده،د ونې د ژیړې پاڼې په څیر چې د خزان موسم یې تویوي داسې یې ټولې هیلې راته تویې کړې او د هیلو ډیوې یې راته ټولې مړې کړې وې.

د سهار د آذانونو انګازې پیلې شوی،د لمانځه په اداء کولو باندې پیل وکړ،لمونځ مې ښه په ارامه چاپیریال کې ترسره کړل،تر خلاصیدو وروسته مې خپل لاسونه د الله(ج) دربار ته لپه کړل: ای پاکه ربه! تا خو په خپل سپیڅلی کتاب کې فرمایلي چې هر انسان د ژوند کولو او ټاکلو حق لري،نو بیا ولې دا خلک داسې کوي؟ آیا زه د ژوند کولو او ټاکلو مستحقه نه یم؟ آیا زه نشمه کولاې ځانته ژوند غوره کړم؟

نو له ما څخه داسې کومه ګناه شوی چې له امله یې داسې راسره وشول.

د تیکري یوه پیڅکه باندې مې د سترګو څخه اوښکې پاکې کړې،د مسلې( جاینماز ) یوه څنده مې قاته کړه.

زړه مې هم نه غوښتل ویده شم،خو همداسې مې ډډه ولګوله،د سوچونو نړۍ مې سترګې زنګولې او راته یې د اللو اللو پر ځای د ریحان نوم اخیسته، هغه ریحان چې ما ورته له ماشومتوبه جانان ویلې،د هغه نازولې خندا،توري سترګې،حیاناکه زړه او معصومه څهره داسې ویلې کولم لکه اور چې شمع ویلې کوي.

لکه د لیونیانو پشان مې د هغه تعریفونه او ستاینې کولې،څه ځنډ به وتي وو چې د لمر ژیړه رڼا فضا وپوښله د معمول په ډول انګړ په پاکولو مې پیل وکړ،چې په یو کار بوخته ومه خو ماغزه به مې هم په ارامه وو خو د وزګارتیا په وخت کې مې یواځې غمونه احساسول، ژوند هم د انسان له وجدان سره لوبه لوبوي چې یې د لامل په پیدا کولو به یې یو خدای(ج) پوهیده،ورځې به د کارونو سره بوخته وم او شپې به د غمونو سره.

د بل سبا په سهر زه د کالیو په پریمینځلو بوخته ومه چې ناڅاپه د انګړ په دروازه درز شو شاته مې وکتل چې پلار مې په ورخطا انداز سره دروازه پرانیسته،مورجانه مې له ځایه پورته شوه: وه سړیه! بیا دی څه

ګلان کرلي چې داسې په تلوار سره په وره را ننوتې؟

پلار مې په ویرېدلي انداز وویل: هغه دغه....

ـ وه سړیه! دا څه هغه او دغه کوې سمه خبره دی وکړه چې زمونږه دی هم اندیښنه زیاته کړه،ولې بیا دی لکه چې د ځمکو په سر له خلکو سره لانجه کړی که څنګه؟

ـ د جمال خان زوی زمونږ پر ځمکو یی دعوا کوله ما یی د پوهلو هڅه وکړه خو هغه د زوره کار واخیست هغه پر ما ټوپک وکیښه کله چې یی ما د لاس نه د ټوپک اخیستلو هڅه وکړه چې ناڅاپه راڅخه ډز وشو او هغه په زړه وویشتل شو.

ـ وي خدایه! خاورې می پر سر شو د دې بد بخته سړي له لاسه،زه پوهیدلم چې د مال او دولت په لالچ کی به یو داسې زیری هم راکوې،خاورې دی پر سر شه شهبازه!

ـ ښځې! ته دی دا ښیراوې بسې کړه،او راته لاره وښایه چې زه څه وکړم؟

ـ څه چې دی کرلي اوس یی بیرته وریبه،د الله په قهر اخته شې.

د دې خبری د اوریدلو څخه وروسته مې مخکیني غمونه هیر شول،زړه نا زړه می خپل پلار ته مخ واړوه: پلاره اخر دی دا زیری هم موږ ته راکړو؟

ـ ته دی هم دا نیسته خوله بنده کړه،او مه مې مجبوروي چې تاسو دواړو کی یو وغځوم.

پلار می په بیړې سره له کوره ووته د هغه د وتلو نه لږ ځنډ د جمال خان اکا غږ تر غوږو شوه: راووځه وه شهبازخانه! خون هم کوی او پټیږې هم د باندې ووځه چې سره معلومه یی کړو!

څو ځله یی دروازه په تیزۍ سره وټکوله ما مې مور ته وکتل او په اشارو می ورته وویل: څه وکړو مورې؟

ناڅاپه د جمال خان غږ تر غوږو شو: ګوره شهبازخان مه مې اړ کوه چې کور ته دې دننه شم را ووځه؟

نور مې دا د جمال خان ببولالې نه شوای زغملای د دروازې د شا نه می ورته وویل: پلار می راغې او بیرته د باندې ووته هیله کوم موږ په ارامه پرېږدئ؟

ـ مور. څه پوه شو چې هغه دلته نشته،مور. باید خپله دا کور ولټوو،دروازه خلاصه کړه!

په همدې خبرو کې وو چې د جمال خان له ملګرو ځخه یوه غږ کړه: جمال خان شهبازخان هغه دی مور. یې ولیدلو اوس تېښتي!

نوره نو د دښمنۍ له حسابه خبره نه ومه خو دومره پوهه شوم چې خبره دوه درې ورځې وروسته د لویو جرګو په لور روانه شوه،د کلي ملک یوه لویه جرګه په دې ونیوله چې زما پلار هم ملامته نه وو،او پلار یې راته ده ته اړ کړ چې ترڅو خپل کلي ته بیرته راشي،خو اخر دا چې پلار مې هم بیرته کلي ته راغې.

***

جرګه داسې پریکړه وکړه: شهبازخانه! تا د جمال خان زوی په ډزو وژلی غوره به دا وي چې دا خبره همدلته پای ومومي دا به مور. ته ښه وي.

شهبازخان وویل: ګوره ملک صیب! ما نه غوښتل داسې یو ناړوه کار وکړم خو د جمال خان زوی زه دی ته اړ کړم او راته یې وویل چې دا ځمکه زما ده او زه دا حق نه درکوم چې ته یې واخلې،ما یې د پوهولو هڅه وکړه خو هغه راپسې توپک وکیښه،او ما یې د توپک اخیستلو هڅه وکړه په دې کې رانه ډزه وشوه او هغه رانه په زړه ولړیده.

جمال خان: درواغ وایی هسې ځان خلاصوي ملک صیب!

ملک صیب: که چیرته خبره رښتیا وي نو خبره به په جرګې سره هواره کړو،او که درواغ وي نو بیا به خبره پر ولسوالی وسپارو.

جمال خان: ملک صیب! دا خو څه د پیازو کچالو سودا نه ده،دا د خون حساب دی او بیا خو ته په خپله ښه پوهیږې چې د خون ځواب په خون خلاصیږي،او زه دا جرګه هیڅ نه منم،دا یواځې د دوښمنۍ حساب دی، او تاسو خپله ښه پوهیږئ چې د دوښمنۍ ځواب وینه ده.

شهباز خان: جمال خانه! ما خو قصداً دا کار نه ده کړې او بیا ته غواړی چې بیرته د وینې ځواب په وینې

واخلې،زه درته لاس په قران ږدم چې ما قصداً دا کار نه ده کړې،نو بیا د وینې په بدل کې وینه څه معنا لري؟

جمال خانه: نور نه پوهیږم،هغه متل خو به دې اوریدلې وي،چې د وینې بدله وینه ده.

ملک صیب: تاسو دواړه څه ویل غواړئ ووایاست؟ زما خبره واورئ او بیرته آرامه په خپل ځایونو کې کینئ

جمال خانه! که ته له وینې اخیستلو څخه تیر شې نو بیا یو بله پریکړه به وکړو!

جمال خان: ملک صیب! یا وینه دې راکړي یا په بدو کې یو څه...

شهبازخان: جمال خانه! زه سر له اوسه تیار یم چې په بدو کې څه درکړم، هرڅه چې ته غواړې ووایه!

جمال خان: سمده، زه به له وینې څخه تیر شم خو په بدله کې به پوره پنځوس لکه افغانۍ راکوې.

شهبازخان: جمال خانه! لږ سره وخوره دومره پیسې به زه درته له کومه کړم؟

جمال خان! ملک صیب! ما خپله پریکړه وکړه نور تاسې دغه پریکړه ورباندې ومنئ!

ملک صیب: پریکړه اعلانوم چې جمال خان د خپل خون بدله  له شهبازخان نه په دومره پیسو واخیسته، شهبازخان درې ورځې وخت لري چې پیسې جمال خان ته ورکړي او د تیښتې هڅه هم ونه کړي،که نه نو بده پایله به ورته ولري.

***

پلار مې د جرګې د پریکړې کیسه زه او زما مورجانې ته وکړه،ټول داسې خواشینې شوو چې له امله یې څو ځلې مورجانې فشار مې پورته ولاړو،په دې ژوند کې مو یواځې غمونه په نصیب شوي وو د خوښۍ څخه مو هیڅ تمه نه وه،یوه ورځ خو په همدې سوچونو او فکرونو کې تیره کړه پلار مې هم ډیر وګرځید چې ترڅو ځمکې بیرته په ښه قیمت خرڅې کړي،مګر له بده مرغه چې ځمکو مو هم دومره قیمت نه کاوه.

د پریکړې د منلو دریمه ورځ هم را ورسیده،ما د کوټو د کړکیو ښیښې پاکولې چې دروازه وټکیده په ځغاسته باندې مې ځان د پلارجان خواته ورساوه: پلاره! زموږ دروازه یو څوک ټکوي؟

د کشمالې پلار د انګړ د دروازې پر لور ګامونه ګړندې کړل،دروازه یې خلاصه کړه ګوري چې یوڅو کسه

د جمال خان ورپسې راغلي وو، یو نفر چې د شکل څخه د دوه یا هم د درې دریشو کلونو راته وې ویل:

شهبازخانه! ستا د وعدې دریمه ورځ ده ته باید له موږ سره جرګې ته ولاړ شې!

پرته له دې چې شهبازخان ورته یو څه ووایي ورسره جرګې ته ولاړ، په جرګه کې یوڅو سپین ږیري او نور مشران ناست ول،د شهباز خان او جمال خان په لیدولو ټول له ځایه پاڅیدل،له یو بل سره تر روغبړ

وروسته ملک صیب وویل: شهباز خانه! هیله لرم چې خپله وعده دې پوره کړې وي؟

شهباز خان: ملک صیب! ما ټولې هڅې وکړې خو له بده مرغه دومره پیسې مې برابرې نه کړې.

جمال خان: ملک صیب! زه له اوله پوهیدم چې دی دا کار نه شي کولای دی په ښه نپوهیږئ،زه باید...

ملک صیب د جمال خان خبره پریکړه: جمال خانه! په رښتیا هم چې دومره پیسې چې تا ورته ټاکلي وو ډیر دي،که یوه بله غوښتنه وکړې نو موږ به وروباندې پریکړه وکړو؟

جمال خان: ملک صیب! اخري پریکړه به بله وکړم خو په یاد ولرئ چې اخري پریکړه به وي!

ملک صیب: سمده،شهبازخانه! ته باید ومنې ځکه دی کی د ژوند او سر مسله ده!

شهبازخان: سمده زه به یې ومنم خو چې زما لپاره مناسب وي.

ملک صیب: ښه نو جمال خانه! تاسو خپله وروستۍ پریکړه ویلای شئ!

جمال خان: زه غواړم د شهبازخان لور په بدو کی خپل بل زوی ته وکړم.

ملک صیب: شهبازخانه! نوره داسې د حل لاره نشته،ته پکې څه وایې؟

شهبازخان: سمده نو،مجبوره یم دی پریکړې غاړه کیدم،زه په دی پریکړې راضي یم.

ملک صیب: ښه ده،راځئ چې لاسونه سره اوچت کړو چې پخیر دا مسله هوراه شوه..

جرګه دا پریکړه وکړه چې شهبازخان خپله لورپه بدو کی د جمال خان زوی ته ورکړي،د پریکړې وروسته ټول مشران بیرته خپل،خپل کورونو ته ولاړل،شهبازخان هم خپل کورته راغې.

ــ وه سریه! ستاسو پریکړه ښنګه شوه او جرګه د چا په ګټه تمامه شوه،تا ته وایمه لکه چې کوڼ شوی که

څه بلا،داسې څو خو به نه وي چې يو څه راڅخه پټوې؟

ــ ښځې ته دی دا خوله بنده کړه او ولاړه شه،اوس د ويلو لپاره څه نه لرم.

د خبری د سرته رسولو وروسته شهبازخان بيرته له انګړه د باندې ووت،کشماله له کوټې څخه د باندې ووته

ــ موری وه مورې!

ــ څه وايی لورې؟

مورې لکه چې ژاړې،ته ولې په دی ناحقه خبرو ماغزه خورې،هرڅه به خدای ښه کړي،راشه چی کوټې ته ولاړ شو،د ماذيګر وخت دی آذانونه هم وشول چی لمونځونه اداء کړو.

شپه هم راورسيده ټولو په ګډه ډوډۍ وخوړه،زه هم د خپلې کوټې خواته ولاړمه،ښه ځنډ ناسته ومه،د اوبو د ګيلاس ډکولو لپاره بيرته د کوټې نه د باندې ووتمه،ناڅاپه مې د مورجانې له کوټې نه د خبرو غږ واوريد:

ــ دا ته څه وايی؟ وه بد بخته تا دا ورسره ومنله چی زه خپله لور په بدو کی درکوم.

ــ نو څه به مې کړي وای،بله لاره مې نه درلوده مجبوره شوم چی دی پريکړی ته غاړه کيږدم.

ــ خو وسړيه! مګر تا سره خو پنځوس لکه افغانۍ وې، نو بيا ولې دی داسې وکړ؟

ــ ښځې! دومره پيسې به مې يو د وينې په بدله کی ورکړای وای،څه پروا کوي فکر وکړه چی لور مو د جمال خان زوی ته ورکړه،هغوي هم دومره بد خلک نه دي.

ــ نو ته به وای چی لور دی ورکړه نو خلاص شوی،دا د بدو معامله ده خدای خبر چی له لور سره به مو څنګه چلند وکړي زه خو وايمه چی داسې مکوه.

ــ هيڅ خبره نشته،ولی به بد چلند کوي؟ هغوي خو څه سړي خواره نه دي چی وبه يی خوري!

ــ وه سړيه! زه هيڅکله دا اجازه نه درکومه چی زما کشماله د جمال خان زوی ته په بدو کی ورکړې.

ــ ته دی دا بيځايه خبری بندې کړه،زه پخپله ښه پوهيږمه چی څه وکړمه اخر لور مو کومې ورځې ته په درد خوري؟ زه نور نه پوهيږم لور دې تر يوی اونۍ پوری وخت لري چی بايد دی ته غاړه کيدي!

د دوي خبرې تر اوریدلو وروسته هره خبره یې زما په ماغزو کې انګازې وهلې،دیوال مې کلک ونیوه د پښو څخه مې ساه ختلې وې،په سختۍ سره مې ځان خپلې کوټې ته ورساوه،ژړا مې نور په ستوني کې بنده وه،د سترګو څخه مې اوښکې هم نه څاځیدلې،لکه د اوړي په موسم کې چې وچکالي رامنځ ته شي داسې هم زما د سترګو په موسم کې د وچکالۍ میاشت ټالۍ وهلې.

ټوله شپه مې ژړلي وو،د سهار د ژیړي لمر سترګې هم نورې کمزورې شوې وې،او کومه اغیزه یې پر ما نه درلوده،د سوکاله ژوندون مې چې کومې وړې هیلې وې هغه هم د غمونو په دریاب کې ډوبې شوې.

په خپله کوټه کې ناسته ومه سر مې پر زنګنو ایښې و او د غم سلګۍ مې وهلې، د پلار مې په دې ناوړو کارونو نور د زړه غوښې مې خوړل شوې وې.

دروازه وټکیده: کشمالې لورکۍ! که ویخه یې دروازه خلاصه کړه؟

ژر مې اوښکې پاکې کړې او دروازې خواته روانه شوم.

ــ لورې! دا سترګې دې ولې داسې پړسیدلې دي؟

د زړه زور مې نور ختم شوي وو نور مې نشوای کولای وزغمم او مورجانې ته مې وویل: مورجانې! بیګاه چې مې څه واوریدل یو همدا هم کم وو چې واورمه؟ مورې! چې پلار سره مې دومره پیسې وې نو بیا ولې داسې له ما سره کوي آیا زما ژوند د هغه د پیسو په مقابل کې ارزښت نه لري؟

یا خدایه! زه له تا څخه دا ګیله لرمه چې ولې دې پیدا کولم؟ چې پیدا دې هم کړم نو اړتیا وه چې دومره غمونه وګالم؟

ــ لورجانې! زه خو نور څه نشم کولای څه چې کیده وشو،بدبخته پلار دې ویل چې روانه اونۍ دې ستا نکاح د جمال خان زوی سره کوم.

مورجانې! ته دې سوکاله ژوند تیر کړه پریږده چې زه دې د دې ټول کړواونو قرباني شم،که زما پر سر پلار مې تا ته سزا درکوي سر د اوسه زه دا خبره منم او دا هم منم چې زما نکـــاح دې د جمال خان اکا

زوی سره وکړي،زه یی منمه پلار ته می دا هم ووايه چی زما په سر چی تاته کومه فايده در رسيږي ده ته زه هم تياره يم خو دا هم ورته ووايه چی په هغه دنيا کی ستا ګريوان او زما به لاس وي.

د خپل بدخته ژوند کيسه به نوره درته څومره اوږده کړم لنډا دا چی هغه ورځ هم راورسيده چی زه یی د جمال خان د کور ناوې کړم،مورجانه می دوه ځله پر خپل ځان د کوما حالت تير کړ خو بد بخته پلار می يواځې د مال،ځمکو،او د پيسو په عيش او عشرت کی غرق وو،زما ژوند هم لکه د غلامانو پشان د جمال خان په کور کې تيريده.

پوره يوه اونۍ د نکاح کولو څخه تيره شوه،د جمال خان زوی کشماله یی هم د پلار کور ته په اوومه باندې ويی نه وړه،ځکه چی د جمال خان زوی او ښځه د کشمالې سره ښه چلند نه کاوه،تل به یی ورته پيغورونه ورکاوه! (چی ته اوس زموږ د کور غلامه یی ځکه چی ستا پلار زموږ زوی را مړ کړ او په بدل کی یی ته موږ ته را په برخه کړې اوس ستا واک او اختيار زموږ په واک کی دی)،او همداسې نوری خبری...

لکه د يوې خير مارې ښځې په سترګو به یی ورته کتل،چی ته زموږ د کور اينګور نه بلکې د کور مزدوره یی،تل به یی ورته په سپک او سپوری هم ويل،او شهباز خان هم دومرهزړه نه درلودهد لور پوښتنې ته راشي ځکه هغې داسی کړنې نه وی ترسره کړی چی د جمال خان مخ ته پورته وګوري،شهباز خان ډير يو بی باکه سړې وو چی د کشمالې د ژوند سره د خطره ډکه لوبه ولوبوله.

هغه کشماله چی په ډيرو پيغلو کی يوه بريښيده اوس لکه د ګور مړې په څير يواځې په بدن کی یی هډوکې پاتې وو،مورجانه یی هم د سل په ناروغی اخته شوه،د کشمالې کورنۍ هم اجازه نه ورکاوه چی د مور ليدو لپاره ورشي،هره ورځ به کشماله د جمال خان د زوی او ښځې يعنې د ميره او خواخې په پيغورونو ژړيده:

(مورجانه! دی نوره مړه کيږي او ته دلته بيغمه ناسته یی ورشه پوښتنې ته مګر که لاړه هم شې موږ خو اجازه نه درکوو).

کشمالې به تل همدا فکر کاوه چی خدايه دا څنګه ژوند دی چی زه یی تيروم،او دا څنګه خلک دي چی د

انسان ژوند ورته هیڅ اهمیت نه ورکوي؟ بل دا چی دا څنګه بی ځایه رواجونو دي په شریعت کی نشته او خلک یی ترسره کوي؟ تر دی به زما لپاره مرګ ښه وي نه د داسې وحشیانو په منځ کی ژوند وکړم.

کشماله بد بخته په سرو سترګو ژړیده چی خواخې یي د مکره ډک غږ وکړ: وه د شهباز خان لورې؟ پاځه د شپې لپاره تیارې وکړه چی میلمانه راځي،خوارکی کشماله هم پاڅیده او ولاړه چی تیارې ونیسي...

د شپې ډوډی تیاره شوه کشماله هم زړه ښه نه کړ چی له دوي سره کیني او ډوډی وخوري،هغه په هماغه ولړې ګیډه ولاړه خپلې خونې ته،د جمال خان زوی له خپلو ملګر سره په میلمه خونه کی تر ناوخته ناست ول او همغلته ویده شوي وو،سهار چی کله خپلې خونې ته راځي ګوري چی کشماله ځان وژنه کړې او ځان یی زیندی کړې او مړه شوې.

د دواړو کورنی د بدبختې کشمالې پر جسد اوښکې تویولې اوس نو دا اوښکې ګټه نه درلود،ځکه شهباز خان باید اول د خپل لور راتلوونکي ته فکر کړی وای،او دومره د پیسو او د دولت په خولو کی ډوب نه وای او پاتې شوه د جمال خان کورنی باید داسې بد چلند نه وای کړی د کشمالې سره،ځکه مال او دولت هیڅ چا سره بقا یا پاتیدونکې نه دی ریحان هم د کشمالې د مرګ په اوریدو سره سم لیونې شو او کلې یی پریښود،څو ورځې وروسته د کشمالې مورجانه هم په حق ورسیده.

( انا الله وانا الیه راجعون )

# پای

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*